


# بانک The Bank

میاشتنی | Monthly | ماهنامه

۲۱۷ گڼه - ۱۴۴۷ صفرالمظفر - ۱۴۰۴ زمری


## چگونگی تأثیر هوش مصنوعی بر اقتصاد کشورهای آسیایی

صفحه ۳۸

## د اقتصادي تحول پر لور سفر: تېرېوالي سيالي او د افغانستان اقتصادي هيلې

مخ ۲

## DAB Reports on Major Achievements, Performances Over Past Year



سطح امانات مردم در سکتور بانکی تنها در سه ماه گذشته حدود ۷.۹ میلیارد افغانی افزایش یافته که نشاندهندۀ اعتماد و باور مردم به سکتور بانکی می باشد.




د امتیاز خاوند: د افغانستان بانک

کتنپلاوی: فدا محمد فیضان، احمد جواد سداد او محمد ادریس رونق

سرلیکوال: شفیق الله بارز



- د افغانستان بانک د تېر کال مهمې لاسته راوړنې د رسنیز کنفرانس له لارې له ملت سره شریکې کړې ۱
- د افغانستان بانک بانکنوت‌های مندرس گرد آوری شده از زون‌های مرکز، شرق و جنوب‌شرق را حریق نمود ۳
- د معلوماتي ټکنالوژۍ لوی آمر سره مرکه: د افغانستان بانک د ناوړینونو پر وړاندې د خوندیتوب مرکز جوړ کړ ۴
- د اقتصادي تحول پر لور سفر: نړیوالې سیالۍ او د افغانستان اقتصادي هیلې ۷
- از بحران تا عمل: بسیج‌سازی ابزارها برای رسیدگی سریع و مقاومت دوامدار ۱۰
- اقتصادي خبرونه ۱۳
- پروژه ۱۰ هزار میگاوات برق افغانستان به امضا رسید ۱۵
- برېښنايي ټکنالوژي او د مالي شمولیت پراختیا ۱۷
- نقش بانکداری مسئولانه در بازسازی اعتماد و توسعهٔ پایدار ۲۱
- مصنوعي ځیرکتیا څنګه له مالیه ټولوونکو او مالیه ورکوونکو سره مرسته کولای شي ۲۵
- چگونگی تأثیر هوش مصنوعی بر اقتصاد کشورهای آسیایی ۲۸
- DAB Reports on Major Achievements, Performances Over Past Year ۳۱



مسئول مدیر: انور الله حیات

خبریالان: سید خالد خالقیار او زاهد الله احمدي

ډیزاین: خالد احمد فیضي

فوتوژورنالیست: زیرک ملیا

د وېش مسئول: نصرت الله احمدزی

د چاپ شمېر: ۱۲۰۰ ټوکه

کال: اوولسم

پته: د افغانستان بانک

د ثبت گڼه: ۴۵۸

ټیلفون: ۰۰۹۳۰۲۰۲۱۰۴۷۶۱

فکس: ۰۰۹۳۰۲۰۲۱۰۰۳۰۵

برېښنالیک: magazine@dab.gov.af

وېب پاڼه: www.dab.gov.af


**۲۱۷**


د مجلې د مقالو او انځورونو کارول د سرچینې په ذکر کولو سره جواز لري.

استفاده از مقالات و تصاویر مجله با ذکر مأخذ مجاز است.

# د افغانستان بانک د تېر کال مهمې لاسته راوړنې د رسنیز کنفرانس له لارې له ملت سره شریکې کړې

د ۱۴۴۷ کال د محرم الحرام ۲۷ مه - د افغانستان بانک ملت ته د حساب ورکولو په موخه د حکومت د رسنیو په مرکز کې د امارتي ادارو د یو کلنو لاسته راوړنو د تشریح پروګرام په ترڅ کې د افغانستان له شریف ولس سره د ۱۴۴۶ هـ ق کال مهمې لاسته راوړنې او کړنې شریکې کړې.

د افغانستان بانک لومړي مرستیال ښاغلي صدیق الله خالد د رسنیو له لارې د افغانستان بانک د بېلابېلو برخو او د بانکي او مالي سکتورونو د مهمو لاسته راوړنو او کړنو په هکله له هېوادوالو سره مهم معلومات شریک کړل. ښاغلي خالد وویل چې په ۱۴۴۶ کال کې د افغانستان بانک وتوانید ترڅو په بېلابېلو برخو کې مهمې لاسته راوړنې او پرمختګونه ولري، هغه د افغانۍ د ارزښت ثبات ته په اشارې وویل چې د افغانستان بانک د معقولو پولي سیاستونو د تطبیق په پایله کې په ۱۴۴۶ کال کې ولس د افغانۍ په ارزښت کې د مثبتو بدلونونو شاهد وو چې افغانۍ د ډالرو پر وړاندې ۰.۷۹ سلنه مثبت تغییر تجربه کړ.

د افغانستان بانک لومړي مرستیال ښاغلي صدیق الله خالد د خپلو خبرو په اوږدو کې د بانکي سکتور د مهمو لاسته راوړنو په هکله معلومات شریک کړل او ويې ویل چې د هېواد بانکي سکتور د شتمنیو په برخه کې نږدې ۱۵ میلیارده افغانیو، د ګټې په برخه کې د ۳.۴ میلیارده افغانیو او د پانګې په برخه کې د ۳ میلیارده افغانیو زیاتوالي تجربه کړ.



همداراز، هغه زیاته کړه چې په تېر کال کې یوازې په وروستیو درېیو میاشتو کې په بانکونو کې د خلکو امانتونه ۷.۹ میلیارده افغانۍ زیات شوي دي.

هغه همداراز د بانکي خدمتونو د آسانولو، د بریښنايي بانکوالۍ او مالي سیستمونو د پراختیا او په دې برخه کې د آسانتیاوو رامنځته کولو په تړاو ووېل چې په تېر کال کې د وړو مالي تمویلاتو، برېښنايي پیسو، او ادایینیزو مؤسساتو لپاره د فعالیت چارچوکاټ رامنځته شوی او جوازونه ورکړل شوي دي. په هېواد کې ٦٢ نوې بانکي نمایندګۍ او غرفې پرانیستل شوې دي، درېیو بانکونو له نمایندګۍ پرته د بانکي خدمتونو پر وړاندې کولو لاس پورې کړې او څلورو نورو بانکونو ته د وړو تمویلاتو د دریځو له لارې د خدمتونو د وړاندې کولو اجازه ورکړل شوې ده. همدا ډول، د هېواد د اقتصادي پرمختګ او د فقر د کمولو په موخه د اسلامي مالي تمویلاتو لمنه پراخه شوې ده چې شاوخوا ١٦ زره کسانو او شرکتونو ته اسلامي تمویلات ورکړل شوي دي. همدا ډول، د تېر کال په پرتله خلکو ته ورکړل شوي اسلامي تمویلات ۷۱ سلنه زیات شوي دي چې دا د محلي اقتصادونو د پراختیا او د هېواد د اقتصادي پرمختګ په لاره کې یو مثبت ګام ګڼل کیږي.

ښاغلي خالد د خپلو خبرو په بله برخه کې ووېل چې اوسمهال سوداګریز بانکونه له نږدې ۲۰۰ نړیوالو بانکونو سره اړیکې لري او د افغانستان بانک نه یوازې دا چې په هېواد کې دننه د بانکي او مالي خدمتونو د پراختیا په موخه فعالیتونه کړې دي بلکې په خوندي، آسانه او چټکه توګه د نړیوالو مالي معاملو، صادراتو، وارداتو او عمومي سوداګریزو کړنو د ترسره کولو په موخه یې د پیسو د نړیوالو لېږدونو (تي تي) د پروسې طی مراحل چې له دې وړاندې د افغانستان بانک تر سره کول سوداګریزو بانکونو ته سپارلي دي.

د افغانستان بانک لومړي مرستیال ښاغلي صدیق الله خالد د خپلو خبرو پر دوام زیاته کړه چې د افغانستان بانک په راکړو ورکړو کې د آسانتیاوو رامنځته کولو او پیسو د جریان د منظم ساتلو په موخه وخت پر وخت له بازار څخه مندرس او زاړه بانکنوټونه راټولوي او د اړوندې کړنلارې سره سم یې سوځوي چې د تېر کال په اوږدو کې یې نږدې ۵ میلیارده مندرس بانکنوټونه راټول او له ګردښت څخه وایستل. همداراز، هغه په غیربانکي مالي سکتور کې د صرافیو او پولي خدمتونو وړاندې کوونکو د فعالتیونو د میکانیزه کولو په تړاو ووېل چې په هېواد کې د صرافیو او پولي خدمتونو د جوازونو شمېر زیات شوی دی او دا مهال یوازې هغه کسان چې په دې برخه کې د فعالیت جواز ولري، په بازار کې د فعالیت اجازه لري.

ښاغلي خالد د بانکي او مالي سکتور د اداراتو او کارکوونکو د ظرفیت لوړولو په موخه د افغانستان بانک د کړنو او لاسته راوړنو په تړاو هم له ملت سره معلومات شریک کړل او ویې ویل چې د بانک مشرتابه په بېلابېلو هېوادونو کې په نړیوالو مالي او بانکي کنفرانسونو او اړوندو غونډو کې ګډون وکړ ترڅو د هېواد مالي او بانکي سکتور د نړیوالو تجربو په رڼا کې په مدرنو سیستمونو د سمبالولو په برخه کې ګامونه پورته شي. سربېره پر دې، د بانکونو، مالي ادارو او د اړوندو سکتورونو کارکوونکو ته د نوو نړیوالو تجربو، تخصصي مهارتونو او د عملي زده کړو د زمینې برابرولو په موخه د افغانستان بانک په هڅو د افغانستان مالي او بانکي انسټیټوټ چې د افغانستان د اسلامي امارت تر فتحې وړاندې یې فعالیتونه دریدلي وو، بېرته فعال شو.

د پروګرام په بله برخه کې د افغانستان بانک د پولي سیاست لوی آمر ښاغلي احمد جواد سداد، د بانکي او مالي خدمتونو د څارنې لوی آمریت مرستیال ښاغلي احسان الله منصور او د غیر بانکي مالي مؤسسو د څارنې لوی آمریت مرستیال ښاغلي شاه پور میاخیل په خپل وار د اړوندو آمریتونو د کړنو او لاسته راوړنو په اړه تفصیلي معلومات وړاندې کړل.

د یادونې وړ ده چې د پروګرام په وروستۍ برخه کې د هېواد د رسنیو د استازو لخوا د پوښتنو لړۍ پیل شوه چې د افغانستان بانک د اړوندو آمریتونو مسئولینو ورته په تفصیل سره ځوابونه ووېل.

# د افغانستان بانک بانکنوت‌های مندرس گرد آوری شده از زون‌های مرکز، شرق و جنوب شرق را حریق نمود

۲۵ محرم الحرام ۱۴۴۷ – د افغانستان بانک به منظور ایجاد سهولت در معاملات و داد و ستد ها، مبلغ ۱،۰۰۹،۸۶۷،۰۰۰ (یک میلیارد، نه میلیون و هشت‌صد و شصت و هفت هزار) افغانی بانکنوت‌های کهنه و فرسوده را حسب طرزالعمل مربوطه که از زون های مرکزی، جنوب‌شرق (گردیز) و شرق (ننگرهار) گردآوری شده بود، در کابل حریق نمود.

این بانکنوت‌ها پس از شمارش و بررسی دقیق که شامل انواعیه های ۱، ۲، ۵، ۱۰، ۲۰، ۵۰، ۱۰۰، ۵۰۰ و ۱،۰۰۰ افغانی میگردید، با حضور هیئت موظف تحت ریاست محترم ملا محمد آخند معاون دوم د افغانستان بانک حریق شد.

محترم ملا محمد آخند معاون دوم د افغانستان بانک حین حریق این بانکنوت ها گفت که بانک مرکزی متعهد به ارائه خدمات بهتر و فراهم سازی سهولت‌ها برای هموطنان در سکتورهای مالی و بانکی کشور می‌باشد و به همین منظور، به‌گونه مداوم بانکنوت های کهنه و فرسوده را از بازار جمع‌آوری کرده، در عوض به شهروندان بانکنوت‌های جدید توزیع می‌نماید و بانکنوت‌های فرسوده بعد از گرد آوری، حریق میگردند تا شهروندان بتوانند معاملات مالی‌شان را به آسانی انجام دهند.

همچنین وی با اشاره به مسئولیت شهروندان در قبال حفاظت از بانکنوت‌های افغانی افزود که نگهداری درست از بانکنوت ها مسئولیت هر افغان بوده و انتظار می‌رود که شهروندان در حفظ و استفاده درست از آن حین داد و ستد، دقت لازم را به خرج دهند.

قابل ذکر است که این بانکنوت‌ها پس از بارگیری، در حضور نمایندگان وزارت‌های عدلیه، مالیه و ادارات امنیتی، توسط هیئت موظف به کوره های مخصوص انتقال داده شده و حریق گردید.



# د معلوماتي ټکنالوژۍ لوی آمر سره مرکه: د افغانستان بانک د ناورینونو پر وړاندې د خوندیتوب مرکز جوړ کړ

د افغانستان بانک، د هېواد د مرکزي بانک په توګه مالي ثبات، د بانکوالۍ خوندي خدمتونو، او د نوي ټکنالوژۍ له لارې د خدمتونو پراختیا ته ژمن دی. دا بانک نه یوازې د خلکو باور ساتلو ته لومړیتوب ورکوي، بلکې د عصري زیربناوو، خوندي شبکو، او تخنیکي تجهیزاتو له لارې هڅه کوي چې بانکي خدمتونو ته آسانه، خوندي، او دوامداره لاسرسی برابر کړي. په دې وروستیو کې د افغانستان بانک په شمال زون کې د ناورینونو پر وړاندې د خوندیتوب یو ستراتیژیک مرکز جوړ کړ. د دې پروژې له لارې، چې پکې د معلوماتي سیستمونو همغږي، د شبکې امنیت، او د تجهیزاتو منظمه ساتنه شامله ده، د افغانستان بانک خپل تعهد تازه کړی، تر څو د هېواد مالي سکتور ته باوري، عصري، او مؤثر خدمات وړاندې کړي. په دې تړاو د بانک مجلې د افغانستان بانک د معلوماتي ټکنالوژۍ لوی آمر ښاغلي عبیدالله عبیدي سره مرکه کړې ترڅو د مجلې ګرانو لوستونکو سره د دې مهمې پروژې د موخو، تطبیق، او راتلونکي په اړه معلومات شریک شي.

**مجله:** په دې وروستیو کې د افغانستان بانک د بلخ ولایت په زون کې د معلوماتي ټکنالوژۍ لوی آمریت لخوا د ناورینونو پر وړاندې د خوندیتوب مرکز جوړ شو، مهرباني وکړئ په هکله یې له ګرانو لوستونکو سره معلومات شریک کړئ؟

**عبیدي:** منبه، د ناورینونو پر وړاندې د خوندیتوب مرکز یو تخنیکي او ستراتیژیک جوړښت دی چې موخه یې د هر ډول



ناورین پر مهال د بانکي خدمتونو دوام دی. دا مرکزونه مهم مالي معلومات خوندي ساتي، د شبکې بدیل اتصال برابروي، او د خدمتونو د دوام لپاره چمتو سیستمونه لري. د یاد مرکز د جوړولو موخه دا وه چې بانکي خدمتونه پرته له ځنډ و ځنډه ترسره او مهم مالي معلومات خوندي وساتل شي.

**مجله:** د یاد مرکز په نشتون کې څه ډول ستونزې رامنځته کیدلای شي؟

**عبیدي:** که دا ډول مرکزونه موجود نه وي، نو بېلابېل ناورینونه کولای شي بانکي سیستم له جدي خطر سره مخ کړي لکه: زلزله، سیلاب، اورلګیدنه، یا طوفان او تخنیکي ستونزې لکه: د سرورونو له کاره غورځیدل، د شبکې قطع کیدل، یا د برېښنا دوامداره نشتوالی، برېښنایي بریدونه چې د معلوماتو غلا، د سیستمونو فلج، یا د مالي زیان سبب ګرځي او بشري تېروتنې یا خرابکاري چې د معلوماتو له منځه وړلو یا د خدمتونو د بندېدو لامل کېږي.

د خوندیتوب دا مرکزونه د دې لپاره جوړېږي چې د دغو خطرونو پر مهال هم د بانک خدمتونه فعال پاتې شي، د خلکو باور وساتل شي، او د مالي نظام ثبات تضمین شي.

**مجله:** آیا د افغانستان بانک تر دې دمه داسې یو مرکز نه درلود؟

**عبیدي:** که څه هم موږ مخکې له دې یو ثانوي سایټ درلود، خو دا د پراخو ناورینونو پر وړاندې د خوندیتوب لپاره کافي نه وو. موږ اړتیا لرله چې د ناورینونو پر وړاندې د خوندیتوب لپاره یو لیرې، بشپړ تجهیز شوی مرکز جوړ کړو، تر څو د ناورینونو د رامنځته کیدو پر مهال هم خدمات دوام ومومي.

**مجله:** ولې د بلخ ولایت د دې مرکز لپاره غوره شو؟

**عبیدي:** په پیل کې پلان دا وو چې دا مرکز له هېواده بهر جوړ کړو، ترڅو نړیوال معیارونه پوره شي. خو د قانوني او لوژستیکي ستونزو له امله دا چاره شونې نه وه. له هر اړخیزې ارزونې وروسته، بلخ د ستراتیژیک موقعیت، امنیت، او موجوده زیربنا له مخې تر ټولو مناسب ځای وو.

**مجله:** د مرکز د جوړولو تخنیکي برخې کومې وې؟

**عبیدي:** په دې پروژه کې یو لړ مهم ګامونه پورته شول، چې له تخنیکي اړخه یې د هارډویر او سافټویر نصبول، د شبکې جوړښت، د خوندي اتصال برابرول، او د داخلي او بهرنیو سیستمونو ترمنځ د معلوماتو همغږي او انتقال شامل وو. له فزیکي اړخه، د ځای چمتو کول هم مهم وو. برېښنا تنظیم شوه، د یخولو وسایل نصب شول، او د امنیت لپاره لازم تدابیر ونیول شول، ترڅو ټول سیستمونه په خوندي، مؤثر او دوامدار ډول فعالیت وکړي.

**مجله:** دا پروژه په څومره وخت کې بشپړه شوه؟

**عبیدي:** که څه هم د دې پروژې د بشپړولو لپاره دوه اونۍ وخت اټکل شوی وو، خو دا د تخنیکي ټیمونو د زمنتیا او همغږۍ پایله وه چې پروژه په درېیو ورځو کې تکمیله شوه. زموږ همکارانو شپه او ورځ کار وکړ، پلانونه یې دقیق عملي کړل، او پروژه یې په یاده موده کې بشپړه کړه.

**مجله:** د امنیت لپاره کوم تدابیر نیول شوي وو؟

**عبیدي:** امنیت زموږ لپاره تر ټولو مهم لومړیتوب دی، او موږ یې د خوندیتوب د تضمین لپاره یو لړ اقدامات ترسره کړل. له فزیکي اړخه، د محدود لاسرسي پالیسۍ پلې شوې او د امنیتي کامرو له لارې دوامداره څارنه تأمین شوه، ترڅو د ځای امنیت وساتل شي. له شبکې طرفه، فایروالونه، وي پي ان اتصالونه، او د هک د کشف پرمختللي سیستمونه فعال شول، چې د معلوماتو خوندیتوب ته ځانګړې پاملرنه وشي. دا ټول اقدامات د مقرراتو او نړیوالو تګلارو سره په بشپړ مطابقت کې ترسره شول، ترڅو پروژه له هره اړخه خوندي، قانوني، او د باور وړ پاتې شي.

**مجله:** آیا د تطبیق پر مهال له ستونزو سره مخ شوئ؟

**عبیدي** :هو، موږ د پروژې د تطبیق پر مهال له ځو مهمو ستونزو سره مخ شوو، چې پکې د بریښنا محدودیت، د فزیکي ځای کمښت، د شبکې خنډونه، او د تخنیکي منابعو محدود شتون شامل وو. خو دا ننګونې مو د زیربناوو د اصلاح، اضافي منابعو برابرولو، او د تخنیکي آزموینو له لارې په بریالۍ توګه حل کړې، ځو پروژه له ځنډ او خنډ پرته پرمخ ولاړه شي.

**مجله:** د دې مرکز تخنیکي مشخصات څه دي؟

**عبیدي:** د دې مرکز تخنیکي مشخصات د پرمختللې ټکنالوژۍ پر بنسټ جوړ شوي، چې پکې لوړ ظرفیت لرونکي سرورونه او د زېرمه کولو وسایل شامل دي، ترڅو د معلوماتو خوندي ساتنه او چټک لاسرسی تضمین شي. همدارنګ، جواز لرونکي عملیاتي سیستمونه او ډیټابیسونه کارول شوي، چې د قانون مطابقت او تخنیکي ثبات لپاره اړین دي. د شبکې نقشه، د اتصال تفصیلات، او د معلوماتو د انتقال فعال تنظیم هم د مرکز د مؤثر فعالیت لپاره په دقت سره طرحه او پلې شوي دي.

**مجله:** راتلونکي ګامونه مو څه دي؟

**عبیدي** : موږ خپل تمرکز پر هغو مهمو برخو درلود چې د مرکز دوامدار فعالیت تضمینوي، لکه: د تجهیزاتو منظمه ساتنه، د انتقال تمرینونه، او د شبکې او معلوماتو د انتقال د سموالي دوامداره څارنه، ترڅو هر ډول احتمالي ستونزه له مخکې تشخیص او حل شي او سیستمونه همیشه چمتو پاتې شي.

**مجله:** لوستونکو ته مو څه پیغام دی؟

**عبیدي:** دا پروژه یوازې تخنیکي نه وه، بلکې پر بانکي سیستم د خلکو د باور ساتلو، د دوامداره بانکي خدمتونو، او د ټکنالوژیکي سیستمونو د خوندیتوب په برخه کې د مرکزي بانک ژمنتیا په ګوته کوي. موږ ویاړو چې د افغانستان بانک د ناورین پر مهال هم چمتو دی، او دا مرکز به زموږ د اوږدمهالو عملیاتو لپاره یو پیاوړی بنسټ چمتو کړي.



# د اقتصادي تحول پر لور سفر: نړيوالې سيالۍ او د افغانستان اقتصادي هيلې

د نړۍ وګړي له پېړيو راهيسې د يو خواکمن، با ثباته او پرمختللي اقتصاد په لټه کې دي. د بشري ژوند د مسير له پيل څخه تر نن ورځې پورې له اقتصادي فعاليتونو سره ژور تړاو لري. د تاريخ په اوږدو کې انسانانو تل هڅه کړې چې اقتصادي بنسټونه پراخ کړي، خو د اقتصاد پرمختګ د ملتونو د فکري ظرفيت، ارزښتونو او ټولنيزو شرايطو له مخې شکل نيولی دی. په دې معنا چې يو شمېر هېوادونو د خپلو وګړو د فکري ودې، تدبير او ملي ژمنتيا له برکته د پام وړ اقتصادي پرمختګونه تجربه کړي، حال دا چې ځينې نور هېوادونه د سياسي بې ثباتۍ، کورنيو شخړو او ناورينونو له امله له اقتصادي ودې بې برخې پاتې شوي دي. سره له دې، يو شمېر ملتونه د ملي يووالي، ستراتيژيک ليد او ټولنيز تعهد پر بنسټ توانېدلي چې خپل هېوادونه له ژورو اقتصادي ستونزو راوباسي او د نړيوالو سيالانو په قطار کې خپل ځای ثابت کړي. د آلمان، جاپان، چين او ورته نورو هېوادونو تجربې يې روښانه بېلګې دي.

نن ورځ د نړۍ اقتصادي پرمختګونو د سياليو بڼه غوره کړې ده. هېوادونه هڅه کوي چې د اقتصاد په مختلفو برخو کې لکه: کرنې، سوداګرۍ، صنعت، ټکنالوژۍ، د اوبو بندونو او نورو مهمو سکتورونو کې پانګونه وکړي، تر څو خپل ملي اقتصاد پياوړی، متوازن او پر ځان بسيا کړي.

**د نړيوالو سکتورونو مقايسه**

اوس مهال، چين د اوبو د بندونو په برخه کې د نړۍ په کچه لومړی مقام لري، په داسې حال کې چې ترکيه او ايران په ترتيب سره دويم او درېيم ځايونه لري. د نړيوالې سوداګرۍ په ډګر کې چين مخکښ دی، او د امريکا متحده ايالات او آلمان په ترتيب سره دويم او درېيم ځايونه لري. د ټکنالوژۍ په برخه کې جاپان لومړی، جنوبي کوريا دويم، او چين درېيم مقام لري.



په وروستيو کلونو کې د چين د دولت هڅې د پام وړ دي؛ دغه هېواد نه یوازې د پرمختللې ټکنالوژۍ په برخه کې پانګونه کوي، بلکې د اوبو پر سترو بندونو یې هم تمرکز زیات کړی دی. دا ځکه چې اوبه او نورې طبیعي سرچینې د هر هېواد د اقتصادي بنسټونو لپاره حیاتي ارزښت لري، او باید په مؤثره او علمي توګه مدیریت شي. د نړیوالو تجربو له مخې، هغه هېوادونه چې د اوبو ستر بندونه لري، د اقتصاد په برخه کې له نورو هېوادونو څخه مخکښ دي.

د یادو پرمختګونو ترڅنګ، چین په دې وروستیو کې اعلان کړی چې د یارلونګ تسانګپو پر سیند، چې هندیان ورته برهماپوترا وایي، د نړۍ په کچه یو ستر او بې‌ساری د اوبو بند جوړوي. د دې بند لپاره ۱.۲ تریلیونه یوان چې معادل یې ۱۶۷ میلیارده امریکایي ډالر کېږي، پانګونه شوې ده. یارلونګ تسانګپو سیند د هند او چین ترمنځ پر ګډه پوله بهېږي، او دا پروژه نه یوازې د چین لپاره ستر اقتصادي اهمیت لري، بلکې د سیمې د اقتصادي توازن لپاره هم اغېزمنه ګڼل کېږي.

د دغو هېوادونو د اقتصادي پرمختګونو په رڼا کې، څرګنده ده چې د نړیوال اقتصاد بڼه لا هم د تحول او بدلون په حال کې ده، او ملتونه هڅه کوي چې د نوښت، پانګونې او ستراتیژیکو تصمیمونو له لارې خپل اقتصادي موقعیتونه پیاوړي کړي.

**امنیت د پرمختګ لپاره بنسټیز شرط دی**

که د اقتصادي پرمختګونو بنسټیز عوامل وڅېړو، نو باید ومنو چې د هر هېواد د پرمختګ لومړنی شرط امنیت دی. کله چې په یوه ټولنه کې امنیت تأمین وي، هلته د اقتصادي تفکر، پانګونې، تولید او نوښت فضا رامنځته کېږي. امنیت د اقتصادي ثبات او دوامداره پرمختګ لپاره بنسټیزه اړتیا ده، ځکه چې پانګوال او تولیدوونکي د خپلې پانګې د خوندیتوب احساس کوي، او له هېواد څخه د پانګې د تېښتې مخه نیول کېږي.

د الله تعالی په فضل، اوسمهال زموږ په ګران هېواد افغانستان کې سرتاسري امنیت حاکم دی. امنیت د دې زمینه برابره کړې چې داخلي پانګوال او سوداګر د خپل وطن دننه پانګونه وکړي. د هېواد د اقتصادي فعالیتونو کچه ورځ تر بلې پراخېږي. د هېواد په بېلابېلو سیمو کې پراختیایي پروژې روانې دي، او افغانستان د آبادۍ، ثبات او اقتصادي ودې په لور ګامونه اخلي.

**ستراتیژیکې پروژې: قوش تیپه، تاپي، افغان ټرانس، واخان دهلیز**

د دغې اقتصادي بیدارۍ څو څرګندې بېلګې دا دي: د قوش تیپې کانال پروژه، چې د سیمې په کچه بې ساری ابتکار ګڼل کېږي، ان شاءالله د هېواد اقتصاد ته به ډېر ژر لوی بدلون ورکړي. همداراز، ترانسپورټي پروژې هم د هېواد د زیربنایي انځور په بدلولو کې مؤثر رول لوبوي چې هېوادوالو ته به ترانسپورټي آسانتیاوې برابرې کړي. د بېلګې په توګه: د سالنګ لویه لار چې اوس مهال یې په بېړه کار روان دی؛ د کابل - قندهار لویه لار، د کابل – لوګر لویه لار چې اوس مهال پرې کار روان دی.

د فابریکو بیا رغونه او د تاپي پروژه د افغانستان د اقتصادي تحول په لړ کې مهمې او ستراتیژیکې هڅې ګڼل کېږي. د تاپي پروژه، چې د هېواد د عوایدو او انرژۍ د انتقال په برخه کې حیاتي رول لري، د رسمي معلوماتو له مخې، د پیل په مرحله کې به شاوخوا ۵۰،۰۰۰ افغان کارګر په مستقیم ډول په کار بوخت شي. په اوږدمهاله توګه، د پروژې د امنیت ساتلو لپاره به له ۹،۰۰۰ تر ۱۱،۰۰۰ تنو پورې کارګرو ته د کار زمینه برابره شي. همدارنګه، د دې پروژې له لارې به افغانستان هر کال شاوخوا ۴۵۰ میلیونه امریکایي ډالر د عوایدو په توګه له ترکمنستان، هند او پاکستان څخه ترلاسه کړي.

د ریل پټلۍ پروژه (افغان ټرانس)، واخان دهلیز، او لسګونه نورې لویې او وړې پراختیایي پروژې د هېواد په مختلفو سیمو کې په عملي ډول روانې دي. الحمدلله، د امنیت د تأمین له برکته، دا پروژې په منظم ډول پر مخ روانې دي، او دا ستر نعمت باید د ملي پرمختګ لپاره په اغېزمنه توګه وکارول شي.

**د ملي بودجې تمویل او د افغانۍ ثبات**

د یادونې وړ ده چې افغانستان له نړیوالو اقتصادي تحولاتو سره په همغږۍ کې خپل مزل تر یوه بریده طی کړی دی. که څه هم په دې برخه کې ځینې ستونزې شته، خو باید په ډاګه ووایو چې د هېواد اقتصادي وضعیت تر بل هر وخت ښه شوی دی. د پام وړ پرمختګونو له برکته، د افغانستان ملي بودجه د څو لسیزو وروسته په لومړي ځل له داخلي سرچینو تمویلېږي، چې دا خپله د اقتصادي خپلواکۍ یو مهمه نښه ده.

همدارنګه، د افغانۍ ارزښت په نسبي توګه ثبات موندلی، او د مالي بازارونو وضعیت د باور وړ دی. دا په داسې حال کې ده چې د نړۍ په سطحه سیاسي ناندرۍ، شخړې او

جګړې د اقتصادي بې‌ثباتۍ لامل شوي، او د نړیوال اقتصاد پر بنسټونو یې ژور اغېز کړی دی.

**نړیوال فشارونه او د افغانستان دریځ**

په دې حساس نړیوال وضعیت کې، د افغانستان د حکومت بې طرفه او متوازنه سیاست یوه ستره لاسته راوړنه ګڼل کېږي، چې نه یوازې داخلي ثبات تضمینوي، بلکې د هېواد د اقتصادي موقعیت د پیاوړتیا لپاره هم زمینه برابروي.

د افغانستان د وروستیو سیاسي تحولاتو په رڼا کې، د هېواد دننه او بهر دا اندېښنه موجوده وه چې شايي اقتصادي بنسټونه، زیربناوې، بانکونه او ستري پروژې به له فعالیت څخه وغورځېږي. خو نه یوازې دا بنسټونه فعال پاتې شول، بلکې د پام وړ چټک پرمختګ یې هم تجربه کړ. دا په داسې حال کې ده چې د نړیوالو له خوا د حکومت په رسمیت نه پېژندنه، د بهرنیو مرستو نشتون، د افغانستان بانک د اسعاري زېرمو کنګل کېدل، او د بې ساري فشارونو شتون د افغانستان اقتصاد له سختو آزموینو سره مخ کړی دی.

له ګاونډیو هېوادونو څخه د کډوالو راستنېدل هم له اقتصادي پلوه یوه ستره ننګونه ده، خو د الله تعالی په فضل، د هېواد اقتصادي سیستم د پرمختګ سفر لا هم دوام لري.

**پایله**

لکه څنګه چې مخکې اشاره وشوه، د نړیوال اقتصاد بهیر په نوي، اغېزناکه او چټکه بڼه پر مخ روان دی نو موږ ته هم پکار ده چې له دې کاروان څخه وروسته پاتې نه شو. افغانستان د طبیعي منابعو له پلوه یو غني هېواد دی. د کانونو، دښتو، غرونو، سیندونو او خامو موادو پراخې سرچینې لري. خو د اقتصادي پرمختګ لپاره یوازې استخراج بسنه نه کوي. د یوه هېواد اقتصاد باید پر دوامدارو اقتصادي زیربناوو ولاړ وي. کانونه که څه هم مهم دي، خو د استخراج موده یې محدوده ده، او دا سرچینه د نوي کېدو وړتیا نه لري. له همدې امله، د کانونو له عوایدو څخه باید د بدیلو او پایدارو سکتورونو ملاتړ وشي لکه: کرنه، ښوونه او روزنه، د اوبو بندونه، سولري انرژي، د فابریکو بیارغونه، او پر تولیدي ماشینري پانګونه. دې سکتورونو ته باید د نورو په پرتله ډېر پام وشي.

دا ډول پانګونې نه یوازې د اقتصاد بنسټونه پیاوړي کوي، بلکې د اوږدمهاله ثبات، د کاري فرصتونو برابرولو، او د صادراتو د پراختیا لپاره هم حیاتي رول لري. د افغانستان د اقتصادي راتلونکي تضمین له همدې ستراتیژیکو پانګونو سره تړلی دی.

**لیکونکی**: نصرت الله احمدزی
د افغانستان بانک د نشراتي موادو د ویش مسئول

اخځلیکونه:

1. د کانونو او پطرولیم وزارت. (بې‌نېټې). د تاپي پروژې لنډیز - د افغانستان د کانونو او پطرولیم وزارت رسمي ویب‌پاڼه https://www.momp.gov.af/tapi-project .
2. طلوع نیوز. (2023، د مارچ 15). په افغانستان کې د تاپي پروژې کار پیل شو https://tolonews.com/business-190654 .
3. آریانا نیوز. (2023، د مارچ 16). د تاپي پروژې له لارې ۵۰ زره افغانانو ته د کار زمینه برابرېږي https://www.ariananews.af/work-on-tapi-project-finally-kicks-off-in-afghanistan/ .
4. Trading Economics. (2024). د چین صادرات د هېوادونو له مخې https://tradingeconomics.com/china/exports-by-country .
5. World's Top Exports. (2024). د چین د صادراتو مهم شریکان https://www.worldstopexports.com/chinas-top-import-partners/ .
6. World Population Review. (2024). په نړۍ کې تر ټولو پرمختللي ټکنالوژي لرونکي هېوادونه https://worldpopulationreview.com/country-rankings/most-technologically-advanced-countries .
7. نړیوال فکري ملکیت سازمان. (2024). (WIPO) د نړیوال نوښت شاخص https://www.wipo.int/gii-ranking/en/china .
8. د مالیې وزارت. (2024). د افغانستان ملي بودجه https://mof.gov.af/en/dg-budget .
9. Afghan Diaspora Network. (2024، د فبروري 4). د افغانۍ ارزښت ثبات: واقعیتونه او خیالونه https://afghandiaspora.org/2024/02/04/afghanistans-currency-stability-realities-and-illusions/ .
10. Policy Circle. (2023، د نومبر 20). افغانۍ د ډالر پر وړاندې مقاومت کوي https://www.policycircle.org/opinion/afghani-defies-odds-dollar-se/ .
11. باختر خبري آژانس. (2024، د جنورۍ 10). د افغانۍ ارزښت ثبات مومندلی، بانکداري نظام پیاوړی شوی دی – د افغانستان بانک https://bakhtarnews.af/en/afghani-currency-has-stabilized-banking-system-strengthened-dab/ .
12. د اقتصاد د پالیسي، خارجي او ارزونې اداره (DPMEA). (2024، د دسمبر 5). اقتصادي خبرپاڼه https://dpmea.gov.af/sites/default/files/2024-12/05.pdf .
13. د سیمه‌ییزو اقتصادي همکاریو کنفرانس (RECCA). بې‌نېټې. د تاپي پایپ لاین پروژه https://recca.mfa.gov.af/tapi-pipeline/ .

# از بحران تا عمل: بسیج سازی ابزارها برای رسیدگی سریع و مقاومت دوامدار

(این مقاله از ویب سایت بانک جهانی ترجمه شده است)

در جریان سال گذشته (2024) بانک جهانی شاهد افزایش علاقه‌مندی و تقاضای بیشتر برای ابزارهای بهتر به منظور آمادگی و رسیدگی به بحران ها بود. شرکای بانک جهانی در دولت، سکتور خصوصی، جامعهٔ مدنی، نهاد ها، و سایر سازمان‌های انکشافی مکرراً پیام مشابهی را میرسانند: در مواجه با بحران، ما به آمادگی بیشتر و دسترسی سریعتر به تأمین مالی نیاز داریم. وقتی کشورها بتوانند در حالات اضطراری به سرعت عمل کنند، احتمال بیشتر وجود دارد تا ادارات باز و جاده ها فعال نگهداشته شود، کسب و کارها ادامه و مردم در وظایف شان حفظ شوند. این ثبات همان چیزی است که به سکتور خصوصی کمک می‌کنند تا سریعتر بهبود یابد و دولت ها را قادر می‌سازد تا از فقر و اختلالات عمیق‌تر جلوگیری کنند و در عوض روی ایجاد پایه‌های قوی برای بهبود و رشد دراز مدت تمرکز کنند.

به همین دلیل، سال گذشته "مجموعهٔ ابزار آمادگی و رسیدگی به بحران" بانک جهانی معرفی شد. این مجموعهٔ ابزار که شامل طیفی از ابزارهای نوآورانه است، با هدف کمک به کشورها برای ایجاد مقاومت و مقابله بهتر با پیامدهای بیشتر تغییرات اقلیمی، افزایش خطرات شیوع امراض ساری و تشدید درگیری‌ها که زندگی و معیشت مردم را در سراسر جهان مختل می‌کند، طرح و تدوین شده است. از زمان معرفی این مجموع ابزار، ٦٦ کشور از کشورهای همکار ما دست کم یکی از ابزار های این مجموعه را بکارگرفته اند. بطور مثال: سال گذشته، زمانیکه طوفان گرمسیری سارا باعث سیلاب‌های ویرانگر و زمین‌لغزش در هندوراس شد، مقامات دولتی آماده



بودند. آنها گزینه رسیدگی سریع مجموعهٔ ابزار را فعال کردند و تأثیر طوفان بر زندگی مردم و زیرساخت ها را کاهش دادند . این ابزار به کشورها اجازه می‌دهد که حداکثر ۱۰ فیصد منابع مالی بانک جهانی که هنوز تخصیص نیافته است را برای نیازهای اضطراری در صورت وقوع بحران بکار گیرند. در حالی که، تأمین مالی سنتی می‌تواند هفته ها یا ماه ها طول بکشد تا به مناطق آسیب دیده برسد و گزینه رسیدگی سریع با فراهم کردن دسترسی به منابع مالی موجود اما استفاده نشده بانک جهانی در جریان چند روز فاصله بین بحران و عمل را پر می‌کند، این امر می‌تواند در زمان بحران تغییر دهنده قاعده بازی باشد.

در هندوراس، دولت دو پروژه فعال را برای برداشت منابع شناسایی کرد و ظرف ۲۴ ساعت پس از فعال سازی گزینه رسیدگی سریع، مبلغ ۵۰.۷۸ میلیون دالر را برای تلاش های بهبود و رسیدگی به حالت اضطراری اختصاص داد. به همین ترتیب، رومانیا سال گذشته با استفاده از گزینه رسیدگی سریع مبلغ ۴۷.۳ میلیون دالر را برای مقابله با سیلاب‌های که تراتسپورت و خدمات عامه در چندین شهر بزرگ مختل کرده بود، به دست آورد، در حالیکه وانواتو (کشوری در اقیانوس آرام) بعد از یک زلزله مخرب با شدت ۷.۳ ریشتر، ۱۲ میلیون دالر دریافت کرد. این سه کشور به طور مجموع بیش از ۱۱۰ میلیون دالر را از طریق گزینه رسیدگی سریع برای رسیدگی فوری به حالت اضطراری خود تخصیص دادند. تا اکنون، ۴۶ کشور گزینه رسیدگی سریع را بکار گرفته اند.

در سال گذشته، پنج کشور ، از جمله گرنادا، هندوراس، نیپال، پانامه و رومانیا مجموعاً ۵۳۰ میلیون دالر از طریق ابزار دیگری به نام "تمویل پالیسی توسعه با گزینه برداشت به تعویق افتاده در شرایط فاجعه" دریافت کردند تا برای رسیدگی به حوادث طبیعی بپردازند.

این ابزار به کشورها کمک می‌کنند تا منابع بیشتری را برای آماده شدن در برابر بحران‌های آینده اختصاص دهند. همچنین، دسترسی به تأمین مالی جدید را در زمان وقوع فاجعه تسریع میبخشد، برای کشور ها منابع فوری را جهت مدیریت بحران فراهم می‌سازد و نگرانی انتخاب میان اولویت های انکشافی و نیازهای تأمین مالی اضطراری را کاهش می‌دهد.

مجموعهٔ ابزار رسیدگی به بحران به ویژه برای کشورهای کوچک جزیره‌یی در حال توسعه ارزشمند بوده است، زیرا این کشور ها با چالش‌های توسعه متفاوتی مواجه اند که غالباً با آسیب پذیری بیشتری در برابر بحران‌ها همراه می باشد. این مجموعه شامل اقدامات عملی و گستردهٔ است که به کشورهای کوچک جزیره‌یی در حال توسعه کمک می‌کند تا برای رسیدگی به بحران‌ها بهتر آماده شوند و در حالت اضطراری رسیدگی مؤثرتری ارائه دهند.

بطور مثال: پس از طوفان بریل در سال ۲۰۲۴، سنت وینسنت و گرنادین‌ها (کشور جزیره یی کوچک در دریای کارائیب) از بندهای قرضه مقاومت در برابر تغییرات اقلیمی استفاده کردند، در حالیکه گرنادا تمویل پالیسی توسعه با گزینهٔ برداشت به تعویق افتاده در شرایط فاجعه را به دست آورد. بندهای قرضهٔ مقاومت در برابر تغییرات اقلیمی انعطاف‌پذیری در بازپرداخت قرضه‌ها در زمان وقوع حوادث مرتبط با تغییرات اقلیمی را فراهم می‌کند و به کشور ها اجازه می‌دهد تا هنگام وقوع حوادث و بحران ها، اولویت را به تلاش های بازیابی پس از حادثه بدهند و پرداخت قرضه را به تعویق بیندازند. این بدان

معناست که آنها می‌توانند تمرکز خود را در عوض پرداخت قرضه‌ها، روی حفظ و بازگرداندن دسترسی به نیازهای اساسی مانند آب پاک، غذا و برق قرار دهند.

بیمه گسترده برای فاجعه، گزینهٔ دیگری است که حفاظت بیشتری در برابر فاجعه های بزرگ ارائه می دهد. از طریق این میکانیزم، ما به کشورها امکان می‌دهیم تا اوراق قرضهٔ فاجعه، بیمه‌ها و سایر ابزارهای مدیریت خطر را در چارچوب تأمین مالی بانک جهانی خود بگنجانند. دولت ها در صورت وقوع بحران میتوانند، بدون افزایش قرضه، پرداخت‌های مالی دریافت کنند. این رویکرد، به جذب سرمایه خصوصی کمک می‌کند و خطر فاجعه‌های نادر اما شدید را به بازارهای بیمه مجدد بین المللی و بازارهای سرمایه منتقل می‌کند.

رسیدگی سریع به بحران‌ها، چه حوادث طبیعی، شوک های صحی یا درگیری‌ها تنها به معنای نجات جان انسان‌ها نیست، بلکه شرایط لازم را برای رشد اقتصادی و اشتغال نیز حفظ می‌کند.

**مترجم: فاتح الله صافی**

**عضو بورد ترجمه د افغانستان بانک**

---

ماخذ:

1- Vincelette, G. A. (2025, July 24). *From crisis to action: Mobilizing tools for rapid response and lasting resilience*. World Bank Blogs. https://blogs.worldbank.org/en/voices/from-crisis-to-action--mobilizing-tools-for-rapid-response-and-l



# اقتصادي خبرونه

## يو خصوصي شرکت د برېښنا د تولید په برخه کې لس میلیارده ډالره پانګونه کوي

د اوبو او انرژۍ وزارت له يوه خصوصي شرکت سره د لس میلیارده ډالرو په ارزښت له لمر، ډبرو سکرو، اوبو، باد او ګازو له طبيعي سرچینو د ۱۰ زره میګاواټه برېښنا د تولید تړون لاسلیک کړ. د اوبو او انرژۍ وزارت سرپرست دغه تړون د اسلامي امارت لپاره یوه مهمه لاسته راوړنه او د افغانستان د اقتصادي ودې پر لور يو اغېزمن ګام بللی. د اوبو او انرژۍ وزارت سرپرست، عبداللطیف منصور وویل: «دا زموږ لپاره یوه ستره لاسته‌راوړنه ده. برېښنا په اوسني وخت کې د هر وګړي او هرې برخې اړتیا ده.» عبداللطیف منصور دغه راز له نورو کورنیو او بهرنیو پانګوالو هم غوښتي چې د افغانستان په بېلابېلو سکتورونو کې پانګونې وکړي. هغه په دې اړه زیاته کړه: «موږ تاسو ته ډاډ درکوو چې افغانستان د انرژۍ د تولید لپاره ډېرې مناسبې سرچینې لري؛ که اوبه، باد، لمر یا ګاز وي، دا ټولې سرچینې زموږ په هېواد کې شته.» د خصوصي شرکت رئیس میرویس عزيزي وايي، د پروژې تخنیکي ډیزاین به تر راتلونکو شپږو میاشتو بشپړ شي او د پروژې په لومړي پړاو کې به له ۲ تر ۳ زره میګاواټه برېښنا د تولید چارې پیل شي. نوموړی زیاتوي، د افغانانو د مسلکي ظرفیتونو د لوړولو لپاره به يو روزنيز مرکز جوړ کړي او د دغې پروژې ۹۸ سلنه کارکوونکي به افغانان وي. دغه پروژه به په راتلونکي ۲۰۲۶ زېږديز کال کې پيل او تر ۲۰۳۲ زېږديز کاله به دوام وکړي چې په ترځ کې به يې په بلخ، باميان، هرات او بغلان کې له ډبرو سکرو ۳ زره او ۴۰۰ میګاواټه برېښنا، په جوزجان، هرات او شمالي زون کې له ګازو ۳ زره او ۷۰۰ میګاواټه برېښنا، په کابل، کاپیسا او دایکندي کې له اوبو ۲ زره او ۴۰ میګاواټه برېښنا، هرات او فراه کې ۷۰۰ میګاواټه برېښنا له باد او کابل، کندهار او غزني کې به له لمریزې انرژۍ ۲۰۰ میګاواټه برېښنا تولید شي. میرویس عزيزي وويل: «د هرې پروژې لپاره به له ۷ تر ۱۰ کسانو بهرني متخصصين وي او موږ غواړو ۹۸ سلنه افغانان وروزو او ټول مسئولیت ورته وسپارو.» افغانستان کې د برېښنا کمښت د هېواد د صنعت او د خلکو د ورځني ژوند ستره ستونزه بلل کېږي.

## تفاهم‌نامه ۵۰۰ میلیون‌دالری برای ساخت خط آهن تورغندی – هرات میان افغانستان و قزاقستان امضاء شد

امارت اسلامی افغانستان و جمهوری قزاقستان با امضای تفاهم‌نامهٔ به ارزش ۵۰۰ میلیون دالر، روند عملی‌سازی پروژه خط آهن هرات-تورغندی را آغاز کردند. معاونیت اقتصادی ریاست‌الوزرا، با نشر اعلامیهٔ نوشته که این تفاهم‌نامه روز گذشته - پنج‌شنبه، ۱۹ سرطان - در جریان دیدار معاون اقتصادی ریاست‌الوزرا و معاون نخست‌وزیر قزاقستان در کابل امضاء شده است. عبدالغنی برادر، معاون اقتصادی ریاست‌الوزرا و مرات نورتلیف، معاون نخست‌وزیر و وزیر خارجه قزاقستان، در دیداری در ارگ، بر گسترش هم‌کاری‌ها در زمینه‌های تجارت،

ترانزیت، راه آهن، بانک‌داری و اقتصادی تأکید کردند. در این دیدار، دو طرف در باره امضای توافق‌نامه‌های تازه در بخش‌های حفظ و قرنتین محصولات کشاورزی، افزایش واردات و صادرات از طریق خط آهن، حمل‌ونقل بین‌المللی، هم‌کاری‌های منطقه‌یی با ایران و ترکمنستان و افتتاح مرکزهای تجارتی مشترک نیز گفت‌وگو کردند. معاون اقتصادی ریاست‌الوزرا گفته که کابل آماده گسترش همه‌جانبه هم‌کاری‌ها با آستانه است. او هم‌چنان افغانستان را یک دهلیز ترانزیتی مؤثر برای انتقال انرژی قزاقستان به آسیای جنوبی عنوان کرده است. بر اساس خبرنامه معاونیت اقتصادی ریاست‌الوزرا، معاون نخست‌وزیر قزاقستان بر تداوم پشتیبانی کشورش از افغانستان در سطح جهانی تأکید کرده و از فراهم‌سازی زمینه‌های جدید هم‌کاری میان دو کشور اطمینان داده است. در بخشی از این خبرنامه آمده: «وزیر خارجه قزاقستان هم‌چنان آمادگی کشورش را برای افزایش واردات برق به افغانستان، انتقال محصولات کشاورزی افغانستان به بازارهای قزاقستان، و افتتاح حساب برای بانک‌های افغان در بانک‌های آزادی و زمان قزاقستان اعلام کرد.» راه آهن هرات - تورغندی، اتصال غرب افغانستان به آسیای میانه را تقویت می‌کند.

**کابل کې د اته میلیون ډالرو په پانگونه د ممیزو د پروسس کارخونه پرانیستل شوه**

کابل (پژواک، ۸ زمرې ۱۴۰۴): د کابل په استالف ولسوالۍ کې د اته میلیون امریکايي ډالرو په پانگونه د ممیزو د پروسس یوه کارخونه پرانیستل شوه چې په کلني ډول د لس زره ټنه ممیزو د پروسس وړتیا لري. د ریاست‌الوزراء اقتصادي معاونیت خبرپاڼه کې راغلي چې افغان سمون د ممیزو د پروسس فابریکه پر ۱۲۸ جریب ځمکه جوړه شوې، ۸ میلیون ډالر پانگونه پرې شوې او په کلني ډول د ۱۰ زره ټنه ممیزو د پروسس وړتیا لري. د دې فابریکې له لورې پروسس او بسته‌بندي کېدونکي ممیز به روسیې، سعودي عربستان، متحده عربي اماراتو، هند، کاناډا، امریکا، بریتانیا او د ختیځې آسیا هېوادونو ته صادرېږي.



منابع:

١- طلوع نیوز، ۱۴۴۷ صفر المظفر ۸ (۱۴۰۴/۰۵/۱۱)

۲- پژواک، ۵ صفر المظفر ۱۴۴۷ (۱۴۰۴/۰۵/۰۸)



# پروژه ۱۰ هزار میگاوات برق افغانستان به امضا رسید

کشور عزیز ما افغانستان بعد از تحمل ۴۰ سال جنگ ویرانگر، بیشترین زیربناهای اقتصادی خود را از دست داده و در طول سالهای جنگ زمینه بهتر احیاء و انکشاف مساعد نگردیده است. خوشبختانه، در چهار سال اخیر نفس آرام کشیده، بستر جنگ برچیده شده و صدای آبادی وطن به گوش می رسد. با ایجاد شدن فضای نسبی ثبات در کشور، نشانه های امید و حرکت به سوی بازسازی اقتصادی در افغانستان نمایان شده است. در این مدت، امارت اسلامی افغانستان با تمرکز بر سیاست های اقتصاد محور، گام های در جهت آغاز پروژه های زیربنایی برداشته است که می تواند زمینه ساز رشد پایدار و خودکفایی ملی گردد. این مقاله نگاهی دارد به روند سرمایه گذاری های داخلی و خارجی، ظرفیت های طبیعی کشور در تولید انرژی برق، و نقش پروژه های بزرگ در تحول اقتصادی افغانستان. به گونه مثال: پروژه کانال قوش تیپه، آغاز پروژه تاپی، اعمار سرک های حلقوی، اعمار بندهای آب گردان، آغاز کار روی معادن و تطبیق صدها پروژه دیگر زیربنایی در مرکز و ولایات کشور جریان دارد که همه ما شاهد آن هستیم.

از این رو، سرمایه گذاران داخلی و خارجی نظر به فضای صلح سرتاسری در کشور علاقه مندی به سرمایه گذاری در بخش های مختلف چون معادن، انتقال گاز، ساخت بازارهای مشترک و تولید

انرژی برق نشان داده اند که از جانب امارت اسلامی افغانستان تشویق شده و وعده همکاری همه جانبه را دریافت نموده اند.

به سلسله این سرمایه گذاری ها، به تاریخ ۱۱ اسد ۱۴۰۴ سال روان، تفاهمنامه میان وزارت آب و انرژی و رئیس عمومی شرکت عزیزی انرژی، در کابل به امضا رسید. این تفاهمنامه که به ارزش 10 میلیارد دالر در بخش تولید برق در کشور عنوان گردیده است، نوید خوش برای شکوفایی اقتصاد کشور می باشد. برق یگانه منبع اساس تولید است و موجودیت آن زمینه هزاران شغل کاری را تضمین می کند.

خوشبختانه کشور ما افغانستان در کنار منابع بشری، منابع سرشار طبیعی را دارا بوده که منبع اساسی تولید انرژی برق را تشکیل می دهد؛ دریاهای خروشان، آفتاب کافی، معادن سنگ زغال، تپه ها و کوه های بادخیز که توجه سرمایه گذاران را به خود جلب نموده است.

طبق گزارشات نشر شده در مورد پروژه تولید برق، از سال ۱۴۰۴ الی ۱۴۱۲ کار ۱۰۰۰۰ میگاوات برق در کشور تکمیل خواهد شد. در شش ماه نخست، کار سروی و دیزاین آن تکمیل شده و بعد از آن زمینه کار برای بیشتر از صد هزار تن فراهم می شود.

بر اساس طرح ابتدایی شرکت انرژی عزیزی، پیش بینی می شود که تولید برق از منابع مختلف مانند زغال سنگ، گاز، آب، باد و آفتاب در سال های ۲۰۲۵ تا ۲۰۳۲ به تدریج افزایش یابد. این در حالیست که کشور ما سالانه ۷۲۰ میگاوات برق را از کشورهای خارجی جهت مصرف در کشور خریداری می نماید.

با عملی شدن پروژه بزرگ یاد شده، افغانستان دیگر نیاز به برق وارداتی نداشته و جلوی خارج شدن صدها هزار دالر برای خرید انرژی برق به کشورهای همسایه گرفته می شود. با عملی شدن و تطبیق پروژه ۱۰۰۰۰ میگاوات برق در کشور، امید بر آن است که هزاران فابریکه تولیدی به میان خواهد آمد و زمینه کاروبار فراوان به مردم مساعد می شود.

در کل می توان گفت با عملی شدن این پروژه، انقلاب صنعتی در کشور به میان خواهد آمد و زمینه کار و فعالیت های اقتصادی به میلیون ها تن از هم وطنان فراهم می شود.

سرمایه گذاری های بزرگ اقتصادی در بخش زیربناها، کشور را به خودکفایی در بخش های مختلف رسانیده و باعث رشد اقتصادی و رفاه عامه می شود. زیرا افغانستان یک کشور زراعتی بوده و نیاز مبرم به سردخانه ها برای نگهداشت تولیدات زراعتی، فابریکات پروسس میوه، تولید انواع روغن های نباتی، تولید انواع جوس ها، استخراج معادن و پروسس، ساخت فابریکات ذوب آهن و معیاری سازی صحت و فابریکات تولید ادویه و غیره دارد. که همه موارد یاد شده نیاز به انرژی برق دارد که بدبختانه در شرایط فعلی کشور از این لحاظ دچار مشکل است.

عملی شدن این پروژه نه تنها باعث رشد اقتصادی کشور گردیده بلکه باعث اعتبار ملی و بین المللی کشور شده زمینه سرمایه گذاری داخلی و خارجی را افزایش می دهد.

قابل ذکر است که این پروژه ۹۸ درصد از جانب انجنیران و کارگران افغان و ۲ درصد از جانب انجنیران و مشاوران خارجی تکمیل و در سال ۲۰۳۲ به یاری خداوند ج به پایه اکمال خواهد رسید.

**نویسنده:** زیرک ملیا فوتو ژورنالیست د افغانستان بانک

---


منابع:

۱. پژواک. (۲۰۲۵، ۲ آگست). تفاهم‌نامهٔ تولید ده هزار میگاوات برق با سرمایه‌گذاری ۱۰ میلیارد دالر در افغانستان امضاء شد. *خبرگزاری پژواک*. https://pajhwok.com/fa/2025/08/02/afghanistan-signs-agreement-to-generate-10000-mw-of-electricity-with-10-billion-investment/

۲. رادیو تلویزیون ملی افغانستان. (۲۰۲۵، ۲ آگست). تفاهم‌نامه تولید ده‌هزار میگاوات برق با سرمایه‌گذاری ده میلیارد دالر در افغانستان امضاء شد. *رادیو تلویزیون ملی افغانستان (RTA)*. https://rta.af/fa/article10187/

# برېښنايي ټکنالوژي او د مالي شموليت پراختيا

**(دا مقاله د نړۍ وال بانک له ويبپاڼې څخه ژباړل شوې ده)**

ګرځنده موبايلونه او انټرنېټ په مالي شموليت کې بنسټيز رول لري چې له لارې يې ډېرى اشخاص کولاى شي ډيجيټلي مالي خدمتونو ته لاسرسي ولري او خپلې مالي چارې تنظيم کړي. د موبايل مني حسابونه چې د ساده موبايلونو له لارې د لاسرسي وړ دي، هغه برېښنايي بټوې چې له بانکي حسابونو سره نښلول شوي او د څيرکو موبايلونو له لارې کارول کېږي او داسې نور ډيجيټلي مالي خدمتونه د دوديزو بديلونو په پرتله زيات د لاسرسي وړ او ارزانه دي.

